مؤسسة الشيخ
محمد بن صالح العثيمين الخيرية
رحمه الله تعالى

# هغه حقونه چې فطرت بلنه ورکړې او شریعت منلي دي

الله تعالی ته د ارمن بنده لیکنه

محمد الصالح العثيمين

شركاء التنفيذ

جمعية
خدمة المحتوى الإسلامي
باللغات

# هغه حقونه چې
# فطرت بلنه ورکړې او
# شریعت منلي دي

# سريزه

إن الحمد لله، نحمده، ونستعينه، ونستغفره، ونتوب إليه، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيّئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضلّ له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلّا الله وحده لا شريك له، وأشهد أن محمّدا عبده ورسوله، صلى الله عليه وعلى آله وأصحابه ومن تبعهم بإحسان وسلم تسليما. أما بعد! د الله تعالى د شريعت د ښېګڼو څخه دا ده چې عدل مراعت شي، او بغير د کمي او زياتي نه هر چا ته خپل حق ورکړل شي، نو الله تعالى په عدل او ښېګڼې او خپلوانو ته د ورکړې امر کړی، او په عدل سره يې پيغمبران رالېږلي، او کتابونه يې نازل کړي، او د دنيا او اخرت چارې يې په عدل سره ولاړې دي.

او عدل هر حقدار ته خپل حق ورکول دي، او هر چا ته د هغه رتبه او منزلت ورکول دي، او دا کار نه کېږي مګر د هر چا د حقونو په پېژندلو سره، نو لدې کبله مونږ دا کلمه د مهمو حقونو باره کې ولېکله، د دې لپاره چې چا دا حقونه وپېژندل چې د خپل وس په اندازه هغه ادا کړي، چې لنډيز يې دا دي:

١- د الله تعالى حقونه.

٢- د پېغمبر صلى الله عليه وسلم حقونه.

٣- د مور او پلار حقونه.

۴- د اولاد حقونه.

۵- د خپلوانو حقونه.

۶- د ښځې او خاوند حقونه.

۷- د چارواکو او ولس حقونه.

۸- د ګاونډیانو حقونه.

۹- د مسلمانانو عمومي حقونه.

۱۰- د غير مسلمانو حقونه.

دا هغه حقونه دي چې مونږ يې يوه برخه په مختصر ډول سره څېړل غواړو.

*

# لومړی حق :د الله تعالی حق

دغه حق تر ټولو حقونو مهم، واجب، او ستر حق دی؛ ځکه چې دا د الله تعالی حق دی کوم چې پیداکوونکی، لوی، څښتن او د ټولو چارو سموونکی ذات دی، د بادشاهۍ حقدار، ښکاره او ربښتیا ذات دی، ژوندی او واکدار دی هغه ذات چې اسمانونه او ځمکه یې په حق باندې درولي، هر شی یې پیدا کړي نو هغه یې په خپل لوی حکمت سره اندازه کړي، د هغه الله تعالی حق چې ته یې له نشت څخه پیدا کړی یې په داسې حال کې چې هېڅ شی نه وې چې یاد شوی وې، د هغه الله تعالی حق چې ستا پالنه یې په نعمتونو سره کړې ستا د مور په خېټه کې په درېو تیارو کې چې هېڅ یو مخلوق تاته په دې تیارو کې روزي او نور د ودې او ژوند کولو شیان نشي دررسولی، تا ته یې دوه سینې (تیونه) له شیدو څخه ډک او تیار کړي دي، تا ته یې نعمتونه، عقل، پوهه درکړي، او د دې د قبلولو او فایدې اخېستلو لپاره یې ته تیار کړی یې، الله تعالی فرمایلي:

﴿وَٱللَّهُ أَخۡرَجَكُم مِّنۢ بُطُونِ أُمَّهَٰتِكُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ شَيۡـٔٗا وَجَعَلَ لَكُمُ ٱلسَّمۡعَ وَٱلۡأَبۡصَٰرَ وَٱلۡأَفۡـِٔدَةَ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ٧٨﴾[النحل: 78]

(او الله تعالی تاسو د خپلو مېندو له خېټو نه راووېستئ، په داسې حال کې چې په هېڅ شي نه پوهېدلئ او تاسو ته یې غوږونه، سترګې او زړونه پیداکړل، د دې لپاره چې تاسو شکر وباسئ). نو که ستا څخه خپله مهرباني د سترګې د رپ په اندازه بنده کړي نو ته به هلاک شې، او که خپل رحمت درڅخه بند کړي نو ته به ژوند ونکړای شې، نو چې دا په تا باندې د الله تعالی فضل او مهرباني ده نو ښېشکه په تا باندې د هغه حق د ټولو حقونو څخه لوی دی، ځکه دا ستا د پېداکولو، تیارولو او تا ته د درکولو حق

دی، او حال دا چې هغه ستا څخه نه رزق او نه روزي غواړي، الله تعالی فرمايلي:

﴿...لَا نَسۡـَٔلُكَ رِزۡقٗاۖ نَّحۡنُ نَرۡزُقُكَۗ وَٱلۡعَٰقِبَةُ لِلتَّقۡوَىٰ۝١٣٢﴾[طه: 132]

(مونږ له تا نه رزق نه غواړو، مونږ تا ته رزق درکوو، او ښه انجام د پرهېزګارۍ لپاره دی). بلکې هغه ستا نه يو شی غواړي چې د هغه فايده هم تا ته راګرځي، ستا نه دا غواړي چې يواځې د هغه بنده ګي وکړې چې د هغه سره څوک شريک نشته، الله تعالی فرمايلي:

﴿وَمَا خَلَقۡتُ ٱلۡجِنَّ وَٱلۡإِنسَ إِلَّا لِيَعۡبُدُونِ۝٥٦ مَآ أُرِيدُ مِنۡهُم مِّن رِّزۡقٖ وَمَآ أُرِيدُ أَن يُطۡعِمُونِ۝٥٧ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلرَّزَّاقُ ذُو ٱلۡقُوَّةِ ٱلۡمَتِينُ۝٥٨﴾[الذاريات: 56-58]

(او ما پېريان او انسانان ندي پيدا کړي مګر د دې لپاره چې زما عبادت وکړي). ستا څخه دا غواړي چې په پوره توګه سره د هغه بنده ګي وکړې، لکه څنګه چې هغه په پوره توګه ستا رب دی، داسې چې ته هغه لره عاجز بنده شې، خاص هغه ته غاړه کېږدې، د هغه اوامر پر ځای کړې، او له منهياتو څخه يې ډډه وکړې، د هغه خبر رېښتيا وګڼې، ځکه چې ته د هغه نعمتونه په تا باندې خواره واره وينې، ته نه شرمېږې چې دا ټول نعمتونه په ناشکرۍ سره بدل کړې؟! که چېرته په تا باندې د خلکو څخه د يو تن احسان وي نو تا به د شرم له وجې د هغه سره په ګناه باندې مقابله نه وي کړې، او په ښکاره به دې ورسره مخالفت هم نه وي کړی، نو ستا د هغه رب په اړه به څنګه ګناه او مخالفت وکړې چې هر احسان په تا باندې د هغه د احسان څخه دی، او هر شر چې ستا څخه لرې کېږي دا د هغه د مهربانۍ له مخې دی؟! الله تعالی فرمايلي:

﴿وَمَا بِكُم مِّن نِّعۡمَةٖ فَمِنَ ٱللَّهِۖ ثُمَّ إِذَا مَسَّكُمُ ٱلضُّرُّ فَإِلَيۡهِ تَجۡـَٔرُونَ٥٣﴾[النحل: 53]

(او پر تاسو چې هر نعمت شوی دی، نو د الله له طرفه دی، بیا چې کله تاسو ته ضرر دروررسیږي، نو (بیا هم) خاص هغه ته زاري کوئ). او د الله تعالی دا حق چې د خپل ځان لپاره یې واجب کړی هغه چا ته اسان دی چې الله تعالی یې ورته اسان کړي، داسې چې الله تعالی پدې کې کومه سختې، تنګستیا او مشقت نه دی ګرځولي، الله تعالی فرمايلي:

﴿وَجَٰهِدُواْ فِي ٱللَّهِ حَقَّ جِهَادِهِۦۚ هُوَ ٱجۡتَبَىٰكُمۡ وَمَا جَعَلَ عَلَيۡكُمۡ فِي ٱلدِّينِ مِنۡ حَرَجٖۚ مِّلَّةَ أَبِيكُمۡ إِبۡرَٰهِيمَۚ هُوَ سَمَّىٰكُمُ ٱلۡمُسۡلِمِينَ مِن قَبۡلُ وَفِي هَٰذَا لِيَكُونَ ٱلرَّسُولُ شَهِيدًا عَلَيۡكُمۡ وَتَكُونُواْ شُهَدَآءَ عَلَى ٱلنَّاسِۚ فَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ وَٱعۡتَصِمُواْ بِٱللَّهِ هُوَ مَوۡلَىٰكُمۡۖ فَنِعۡمَ ٱلۡمَوۡلَىٰ وَنِعۡمَ ٱلنَّصِيرُ٧٨﴾[الحج: 78]

(او په (لاره د) الله کې کوښښ کوئ، څنګه چې د هغه د کوښښ حق دی، هغه تاسو غوره کړي يئ او په تاسو باندې يې په دين کې هيڅ حرج (مشقت) نه دی اېښی، تاسو د خپل پلار ابراهيم د ملت تابع شئ، دغه (الله) تاسو مسلمانان نومولي يئ، له دې (قرآن) نه مخکې او په دې کې، د دې لپاره چې رسول پر تاسو باندې ګواه شي او تاسو په خلقو باندې ګواهان شئ، نو تاسو لمونځ قايموئ او زکات اداکوئ او په (دين د) الله باندې منګولې کلکې (ټينګې) کړئ، هغه ستاسو مالک دی، نو هغه ښه مالک دی او ښه مدد کوونکی دی). بېشکه دا اوچته عقيده ده، او په حق باندې ايمان دی، او نېک عمل دی چې په غيبو د ايمان ثمره ده، او واقعاً د ايمان مضبوطوونکې مېنه او لويي ده، او د هغه ثمره او نتيجه اخلاص او استقامت دی، په شپه او ورځ کې په پنځو لمونځونو الله تعالی

ټول ګناهونه رژوي، مرتبې پرې لوړوي، زړونه او حالات پرې برابروي، يو بنده دا د خپل وسې او توان مطابق ترسره کوي، الله تعالی فرمايلي:

﴿فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ مَا ٱسۡتَطَعۡتُمۡ ...﴾[التغابن: 16]

(نو تاسو له الله نه ووېرېږئ څومره چې تاسو کولی شئ). او پېغمبر صلی الله علیه وسلم عمران بن حصين رضي الله عنه ته ووېل، په داسې حال کې چې هغه ناروغ و: «صل قائما، فإن لم تستطع فقاعدا، فإن لم تستطع فعلى جنب». (په ولاړه لمونځ کوه، که يې نشې کولی نو په ناسته يې وکړه، او که يې نشې نو په اړخ (پروت حالت) باندې لمونځ وکړه). زکات: او دا ستا په مال کې يوه لږه اندازه برخه ده چې ته يې غريبانو مسلمانانو، مسافرو، قرضدارو او نورو د زکات مستحقينو ته ورکوې، الله تعالی فرمايلي:

﴿...فَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ وَٱعۡتَصِمُواْ بِٱللَّهِ هُوَ مَوۡلَىٰكُمۡۖ فَنِعۡمَ ٱلۡمَوۡلَىٰ وَنِعۡمَ ٱلنَّصِيرُ ٧٨﴾[الحج: 78]

(نو تاسو لمونځ قايموئ او زکات ادا کوئ او په (دين د) الله باندې منګولې ټينګې (کلکې) کړئ، هغه ستاسو مالک دی، نو هغه ښه مالک دی او ښه مدد کوونکی دی).

په کال کې د يوې مياشتې روژه نيول، او څوک چې مريض وي او يا په سفر کې وي نو د هغو په شمار دې نورو ورځو کې روژې ونيسي، او څوک چې د همېشه لپاره معذوره وي او روژه نشي نيولی نو هغه به د هرې ورځې په مقابل کې يو مسکين ته خوراک ورکوي.

په ټول عمر کې يو ځل حج کول د چا چې وسه او توان وي.

دا د الله تعالی د حقونو اصول دي، او د دې نه ما سوا نور د یو څه کار له وجې واجبیږي لکه د الله تعالی په لار کې جهاد کول، او یا د نورو سببونو له وجې واجبیږي لکه: د مظلوم سره مرسته کول.

وګوره -اې وروره- دا حق خو په عمل کې ډېر لږ دی، خو په ثواب کې ډېر دی، کله چې ته دا وکړې نو ته به په دنیا او اخرت کې نېکبخته يې، او د اور نه به خلاص شې، او جنت ته به داخل شې. الله تعالی فرمايلي:

﴿...فَمَن زُحۡزِحَ عَنِ ٱلنَّارِوَأُدۡخِلَ ٱلۡجَنَّةَ فَقَدۡ فَازَۗوَمَا ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَآ إِلَّا مَتَٰعُ ٱلۡغُرُورِ١٨٥﴾[آلعمران: 185]

(نو څوک چې د اور د جنهم نه لرې کړی شو او جنت ته داخل کړی شو، نو يقينا هغه کامياب شو، او دنيوي ژوند يوازې د غولېدلو سامان دی).

*

# دویم حق :د پېغمبر صلی الله علیه وسلم حق دی

او دا په مخلوقاتو کې تر ټولو لوی حق دی، نو د هېڅ مخلوق حق د پېغمبر صلی الله علیه وسلم د حق څخه لوی نه دی، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿إِنَّآ أَرۡسَلۡنَٰكَ شَٰهِدٗا وَمُبَشِّرٗا وَنَذِيرٗا ٨ لِّتُؤۡمِنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَتُعَزِّرُوهُ وَتُوَقِّرُوهُۚ وَتُسَبِّحُوهُ بُكۡرَةٗ وَأَصِيلًا ٩﴾[الفتح: 8-9]

(بېشکه مونږ ته شاهد زیری ورکوونکی او ویره ورکوونکی لېږلی یې).
او لدې وجې نه د پېغمبر صلی الله علیه وسلم سره محبت کول د ټولو خلکو په محبت باندې مخکې کول واجب دي حتی پر ځان او پر زوی او پلار باندې، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: «لا يؤمن أحدكم حتّى أكون أحبّ إليه من ولده ووالده والنّاس أجمعين». «په تاسو کې هېڅ يو کس (پوره) مومن نشي جوړېدلی تر څو چې زه هغه ته د خپل زوی، پلار او ټولو خلکو څخه محبوب نشم». او د پېغمبر صلی الله علیه وسلم له حقونو څخه دا دي: د هغه قدر کول، احترام کول او د هغه د شان سره مناسب د هغه عزت کول بغیر د زیاتي او کمي نه، نو په ژوند کې د هغه عزت کول دا دي چې د هغه د سنتو او د شخصیت مبارک درناوی وشي، او وروسته د مرګ څخه د هغه درناوی د هغه د سنتو او شریعت درناوی کول دي، او چا چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د صحابه و درناوی او قدر لیدلی وي هغه به په دې پوه شوی وي چې دغو عزتمندو د رسول الله صلی الله علیه وسلم واجب قدر څنګه ادا کړی وو، د حدیبيې په سوله کې چې کله قریشو عروه بن مسعود د پېغمبر صلی الله علیه وسلم سره د مذاکراتو لپاره ولېږلو هغه وویل: «دخلت على الملوك -كسرى وقيصر والنّجاشي- فلم أر أحدا يعظّمه أصحابه مثل ما يعظّم أصحاب محمّد محمّدا، كان إذا

أمرهم ابتدروا أمره، وإذا توضّأ كادوا يقتتلون على وضوئه، وإذا تكلّم خفضوا أصواتهم عنده، وما يحدّون إليه النّظر تعظيما له». «زه د بادشاهانو -کسری، قیصر او نجاشي- خوا ته ورغلی یم نو ما په دوی کې هېڅ یو نه دی لیدلی چې خپلې ملګري یې دومره احترام کوي لکه څرنګه چې د محمد ملګري د هغه احترام کوي، کله چې ورته امر وکړي هغوی یې عملي کولو ته وړاندې والی کوي، او کله چې اودس کوي نږدې و چې دوی یې د اوداسه په اوبه یو بل سره جنګ وکړي، او کله چې خبرې کوي ټول خپل اوازونه ټیټوي، او د احترام له وجې هغه ته پورته نشي کتلی».

الله تعالی دې د هغوی نه راضي شي داسې به یې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم احترام کاوه، سره له دې نه چې الله تعالی هغه ته کوم ښاېسته اخلاق ورکړي وو او نرم مزاج یې  ورکړی و، او که چېرته سخت زړی بد اخلاقه وای نو صحابه به د هغه د خوا نه خواره شوي وو.

او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د حقونو څخه دا دي: هغه چې د کومو پخوانیو او راتلونکو حالاتو په اړه کې خبر ورکړی د هغه رښتیا ګڼل، او په څه چې یې امر کړی د هغوی عملي کول، او د څه نه چې یې منع فرمایلي د هغه نه ځان ساتل، او په دې ایمان لرل چې بېشکه د هغه ښودنه د هر چا نه پوره ده او شریعت یې د ټولو شریعتونو څخه پوره دی او هېڅ یو شریعت او نظام باید د هغه نه وړاندې نشي؛ که د هر چا له خوا وي، الله تعالی فرمایلي:

﴿فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤۡمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيۡنَهُمۡ ثُمَّ لَا يَجِدُواْ فِيٓ أَنفُسِهِمۡ حَرَجٗا مِّمَّا قَضَيۡتَ وَيُسَلِّمُواْ تَسۡلِيمٗا٦٥﴾[النساء: 65]

(پس داسې نه ده، ستا پر رب مې دې قسم وي! دوی مومنان کېدی نشي تر هغه پورې چې دوی په خپل منځ کې په پېښو جګړو کې تا فیصله کوونکی ومني، بیا په خپلو نفسونو کې ستا د کړي فیصلې په باره کې هېڅ تنګي ونه مومي او په ښو منلو سره یې ومني)،

﴿قُلۡ إِن كُنتُمۡ تُحِبُّونَ ٱللَّهَ فَٱتَّبِعُونِي يُحۡبِبۡكُمُ ٱللَّهُ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٣١﴾[آلعمران: 31]

(ای نبي!) ته ووایه: که چېرې یئ تاسو چې له الله سره مینه کوئ، بیا نو زما اتباع وکړئ، الله به له تاسو سره مینه وکړي او تاسو ته به ستاسو ګناهونه وبخښي او الله ډېر بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی او د پېغمبر صلی الله علیه وسلم د حقونو څخه دادي: د هغه د شریعت او ښودنې څخه دفاع کول څومره چې د انسان وسه او طاقت وي او څومره چې د وخت تقاضا وي د اسلحې څخه، نو کله چې دښمن په دلیلونو او شبهاتو سره حمله کوي، نو د هغه دفاع به په علم او د هغه د شبهو په ناکامولو او د هغه په بطلان سره کوي، او که چېرته په اسلحې او توپونو سره حمله کوي نو د هغه په شان دفاع به یې کوي.

او هېڅ مومن لره مناسب نه دي چې هغه دا واوري چې د پېغمبر صلی الله علیه وسلم په شریعت او یا شخصیت څوک حمله کوي، او دا دې غلی شي، سره د دې نه چې د هغه وسه او توان وي.

*

# دريم حق :د مور او پلار حقونه

هېڅوک په بچي باندې د مور او پلار د حقونو څخه انکار نه کوي، ځکه مور او پلار د بچي د پيداکېدلو سببونه دي، او د دوی دواړو په هغه باندې ډېر لوی حق دی، ځکه چې هغوي دا په وړوکوالي کې روزلي دي، او د دې د راحت له وجې هغوی ستړي شوي، او د دې د خوب له وجې هغوی بې خوبه شوي، مور ته په خپله خېټه کې ګرځولی يې، او غالبا نهه مياشتې د هغې په خوراک او روغتيا باندې ژوند کوې، لکه څرنګه چې الله تعالی دې خبرې ته په خپلې دې وينا کې اشاره کړې ده:

﴿...حَمَلَتۡهُ أُمُّهُۥ وَهۡنًا عَلَىٰ وَهۡنٖ ...﴾[لقمان: 14]

(دې خپل مور اوچت کړی و، په داسې حال کې چې سخته کمزورې وه، له پاسه د بلې کمزورۍ نه)، بيا د دې نه وروسته تر دوو کلونو پورې له ستړتيا او سختيو سره روزنه او شېدې ورکول دي. پلار همدارنګه له وړوکوالي څخه ستا تر لويېدولو پورې ستا د ژوند او روزۍ لپاره کوښښ کوي تر دې چې ته پخپلو پښو ودرېږې، او ستا په روزنه او لارښوونه کې کوښښ کوي او حال دا چې ته د خپل ځان لپاره نه د خير رسولو او نه د ضرر دفع کولو وسه او توان لرې، او له دې کبله الله تعالی زوی ته د مور او پلار سره د احسان او شکر امر کړی، نو الله تعالی فرمايلي:

﴿وَوَصَّيۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ بِوَٰلِدَيۡهِ حَمَلَتۡهُ أُمُّهُۥ وَهۡنًا عَلَىٰ وَهۡنٖ وَفِصَٰلُهُۥ فِي عَامَيۡنِ أَنِ ٱشۡكُرۡ لِي وَلِوَٰلِدَيۡكَ إِلَيَّ ٱلۡمَصِيرُ ١٤﴾[لقمان: 14]

(او موږ انسان ته د مور او پلار (سره د نيکۍ کولو) په باره کې کلک حکم کړی دی، دی خپلې مور اوچت کړی و، په داسې حال کې چې سخته کمزورې وه، له پاسه د بلې کمزورۍ نه او د ده بېلول (د تی نه) په

دوه کلونو کې وو، دا چې ته زما او د خپل مور او پلار شکر کوه، خاص ما ته بېرته راتلل دي)، او همدارنګه يې فرمايلي:

﴿۞ وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوٓاْ إِلَّآ إِيَّاهُ وَبِٱلْوَٰلِدَيْنِ إِحْسَٰنًاۚ إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِندَكَ ٱلْكِبَرَ أَحَدُهُمَآ أَوْ كِلَاهُمَا فَلَا تَقُل لَّهُمَآ أُفٍّ وَلَا تَنْهَرْهُمَا وَقُل لَّهُمَا قَوْلًا كَرِيمًا ٢٣ وَٱخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ ٱلذُّلِّ مِنَ ٱلرَّحْمَةِ وَقُل رَّبِّ ٱرْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيَانِى صَغِيرًا ٢٤﴾[الإسراء: 23-24]

(او ستا رب حکم کړی چې تاسو عبادت مه کوئ (د بل هېچا) مګر يوازې د هغه او له مور او پلاره سره ښه احسان کوئ او که چېرې په دوی کې يو يا دواړه له تا سره کله زوړوالي (بوډاولي) ته ورسيږي، نو ته دې دواړو ته اف هم مه وايه او مه دوی رټه او ته دوی ته ډېره ښايسته خبره کوه). په تا باندې د مور او پلار حق دا دی چې: د هغوی سره نيکي وکړې، او هغه داسې چې هغوی ته ښه وينا وکړې او ښه ورسره وکړې، په مال او بدن سره، چې د الله تعالی نافرماني پکې نه وي د هغوی خبره ومنې چې تا ته پکې ضرر نه وي، نرمه خبره به ورته کوې، په ورين تندي ورسره تعامل کوه، او د هغوی د شان سره مناسب يې خدمت کوه، د بوډاوالي مرض او کمزورۍ په وجه د هغوی نه مه تنګيږه، او دا په ځان باندې درانه مه ګڼه. نو ته به خامخا د هغوی درجې ته رسيږې، ته به هم د هغوی په شان پلار جوړيږې، -او که تقدير کې د رته لیکل شوي وو- ته به هم د خپلو بچو سره بوډاوالي ته رسيږې لکه څرنګه چې هغه دواړه ستا سره بوډاګان شوي وو، او ته به هم د خپلو بچو ښېګڼې ته محتاجيږې لکه هغوی چې ستا ښېګڼې ته محتاج شوي وو، نو که تا چېرته د هغوی سره ښېګڼه کړې وي نو لوی اجر او ثواب دې درته مبارک وي، او بدله په مثل سره وي، نو چا چې د خپل مور

او پلار سره ښېګڼه وکړه بچي به يې ورسره هم ښېګڼه کوي، او چا چې د مور او پلار نافرماني وکړه د دې بچې به هم د دې نافرماني کوي، ځکه بدله د عمل په شان وي، او لکه څرنګه چې کوي هماغه شان به ستا سره کېږي. او بېشکه الله تعالی د مور او پلار د حقونو مرتبه ډېره لويه ګرځولې داسې چې د هغوی حق يې د خپل حق نه وروسته متصل بيان کړی -کوم چې د هغه او د هغه د رسول صلی الله عليه وسلم حق ته شامل دی-، نو الله تعالی فرمايلي:

﴿۞ وَٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَلَا تُشۡرِكُواْ بِهِۦ شَيۡـٔٗاۖ وَبِٱلۡوَٰلِدَيۡنِ إِحۡسَٰنٗا...﴾[النساء: 36]

(تاسو د الله تعالی بندګي وکړئ او د هغه سره هيڅ شی مه شريکوئ او د مور او پلار سره نيکي وکړئ). او الله تعالی فرمايلي:

﴿...ٱشۡكُرۡ لِي وَلِوَٰلِدَيۡكَ إِلَيَّ ٱلۡمَصِيرُ ١٤﴾[لقمان: 14]

(دا چې ته زما او د خپل مور او پلار شکر کوه، خاص ما ته بېرته راتلل دي)، او پيغمبر صلی الله عليه وسلم د مور او پلار سره نېکي د الله تعالی په لارکې په جهاد باندې وړاندې کړی: لکه د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه په حديث کې چې دي هغه فرمايي: ما وفرمايل: ای د الله تعالی پېغمبره! الله تعالی ته کوم (نېک) عمل ډېر خوښ دی؟ هغه وفرمايل: «الصّلاة على وقتها»، قلت: ثمّ أيّ؟ قال: «برّ الوالدين»، قلت: ثمّ أيّ؟ قال: «الجهاد في سبيل الله». «په خپل وخت باندې لمونځ ادا کول»، ما وويل: بيا کوم يو؟ هغه وفرمايل: «د مور او پلار سره نيکي کول»، ما وويل: بيا کوم يو؟ هغه وفرمايل: «د الله تعالی په لاره کې جهاد کول». امام بخاري او مسلم روايت کړی، او دا د مور او پلار د حق په اهميت باندې دلالت کوي کوم چې ډېرو خلکو ضايع کړی، او نافرماني او د اړيکو پالل يې غوره کړي، نو ته به د دوی ځني وينې چې د خپل پلار او مور

هېڅ حق به نه مني، او کېدای شي هغوی بې عزته او سپک کړي، او اواز پرې اوچت کړي، او  خامخا به د دې په شان بدله وېني زر وي او که وروسته.

*

# څلورم  حق :د اولاد حقونه

اولاد؛ زامنو او لورګانو ټولو ته شامليږي، او د اولاد ډير حقونه دي، چې غوره يې دا دي: پالنه، او دا د هغوی په ځانونو کې د دين او اخلاقو رازرغونول دي تر دې چې هغوی په دې دواړو کې ډير څه ولري. الله تعالی فرمايلي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ قُوٓاْ أَنفُسَكُمۡ وَأَهۡلِيكُمۡ نَارٗا وَقُودُهَا ٱلنَّاسُ وَٱلۡحِجَارَةُ...﴾[التحريم: 6]

(اې هغو کسانو چې ايمان مو راوړی تاسې خپل ځانونه او خپل اهل د داسې اور نه وساتئ چې د هغه خاشاک خلک او کاڼي دي)، او پيغمبر صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «كلكم راع، وكلكم مسؤول عن رعيّته، والرّجل راع في أهله ومسؤول عن رعيّته»، «هر يو په تاسې کې ساتونکی او امين دی، او هر يو ستاسې نه د خپلې رمې (اهل) مسؤول دی، او سړی په خپل کور او اهل کې ساتونکی او امين دی او هغه د خپل رعيت په اړه مسؤول دی»، نو اولاد د پلار او مور په غاړه کې امانت دي، دوی دواړه د قيامت په ورځ د هغوی په اړه ذمه واران دي، او د هغوی په ديني او اخلاقي پالنې سره دا دواړه د دې مسؤوليت څخه خلاصيږي، او اولاد نېکمرغه کيږي، نو دوی به په دنيا او اخرت کې د مور او پلار د سترګو يخوالی وي، الله تعالی فرمايلي:

﴿وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَٱتَّبَعَتۡهُمۡ ذُرِّيَّتُهُم بِإِيمَٰنٍ أَلۡحَقۡنَا بِهِمۡ ذُرِّيَّتَهُمۡ وَمَآ أَلَتۡنَٰهُم مِّنۡ عَمَلِهِم مِّن شَيۡءٖۚ كُلُّ ٱمۡرِيِٕۭ بِمَا كَسَبَ رَهِينٞ ٢١﴾[الطور: 21]

(او هغه  کسان چې ایمان یې راوړی وي او د دوی اولاد (هم) په ایمان کې د دوی متابعت کړی وي، (نو) مونږ به په دوی پورې د دوی اولاد هم پیوست کړو او مونږ به دوی ته ددوی له عملونو نه هیڅ شی کم نه کړو، هر سړی به د خپلو کړو په بدل ګرو (ګاڼه) وي)، {أَلَتْنَاهُم} یعنې: کم کړي مو دي، او پېغمبر - صلى الله عليه وسلم - فرمایلي: «إذا مات ابن آدم انقطع عمله إلّا من ثلاث: صدقة جارية، أو علم ينتفع به من بعده، أو ولد صالح يدعو له»، «کله چې انسان مړ شي نو د هغه عمل بند شي مګر درې شیان نه بندېږي: جاري صدقه، او یا هغه علم چې خلکو ته پرې فایده رسېږي، او یا نېک عمله زوي چې هغه ته دعا کوي»، نو دا د پلار د سمې تربیې نتیجه ده کله چې یې نېکه تربیه ورکړې وي، حتا د مرګ نه وروسته هم د مور او پلار لپاره ګټور وي. او ډېری مور او پلار په دې حق کې کوتاهي کوي، نو اولادونه یې ضایع شوي او هیر کړي یې دي، ګویا کې د دوی په هغوی باندې هېڅ ذمه واري نشته، دا پوښتنه نه کوي چې چېرته لاړل، او کله راغلل؟ او نه دا پوښتنه کوي چې دهغوی ملګري او انډیوالان څوک دي؟ او نه هغوی ته د خیر لار ورښایي، او نه یې د شر نه منع کوي. او د تعجب خبره دا ده چې دوی د خپل مال په ساتلو او زیاتولو باندې ډېر حرص کوي، او د هغه لپاره شپې رڼوي، سره لدې چې غالبا دوی دا مال د نورو لپاره زیاتوي او برابروي یې، او هر چې د دوی بچې دي نو دهغوی ورسره څه غم نه وي، سره لدې چې د دوی ساتنه او روزنه دوی لره په دنیا او اخرت کې ډېره ښه او غوره ده، او لکه څرنګه چې په پلار باندې د خپل بچې د بدن مړول په خوراک او څښاک سره لازم دي او په جامو سره پټول یې لازم دي، همدارنګه په هغه باندې لازم دي چې د هغه زړه په علم او ایمان سره خړوب کړي، او روح ته یې د تقوا جامې واغوندي، او دا ډېره غوره ده. او د اولاد د حقونو څخه دا دي: چې په هغوی باندې بغیر د اسراف او کمي نه په ښې طریقې سره خرچه وکړي، ځکه چې دا په ده باندې د

اولاد د حقونو څخه دي، او ده لره چې الله تعالی کوم مال ورکړی د هغه د نعمتونو شکر دی، او څرنګه د دوی نه په ژوند کې مال منع کوي، او په هغوی بخل کوي، تر څو یې ورته ذخیره کړي، او بیا یې له مرګ نه وروسته ترې په زبردستۍ سره اخلي؟! او که د دوی نه خپل واجب حق منع کوي نو دوی کولی شي چې په سمه طریقه د دې د مال نه دومره واخلي چې د دوی ته بسنه کوي، لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم چې هند بنت عتبة رضي الله عنها ته داسې فتوا ورکړې وه. او د بچو د حقونو څخه دا دي چې: په ډالیو او ورکړو کې یو په بل باندې غوره نه کړي، نو داسې دې نه کوي چې ځینو بچو ته څه ورکوي او نورو ته یې نه ورکوي، ځکه چې دا ظلم او زیاتی دی، او الله تعالی ظالمان نه خوښوي، ځکه چې دا د محرومانو زړه توروي، او د هغو نورو سره یې دښمني پیدا کېږي، او بلکې شاید د خپل پلار سره هم دښمني وکړي. او ځیني خلک د دې وجې نه ځیني زامن په ورکړې او ډالۍ سره غوره کوي چې هغه د مور او پلار سره نیکي کوي، خو لېکن دا کار سم ندی، نو کوم یو چې د نیکۍ په وجه غوره شوی هغه لره د خپلې نېکۍ بدله په مال سره ورکول ندي پکار، بلکې د هغه د نیکۍ اجر او بدل د الله تعالی سره دی، او نیکي کوونکی په ډالیو ورکولو سره کیدای شي خپله نیکي ورته ښه ښکاره شي، او ځان غوره وګڼي، او له بل څخه متنفر شي، او په نافرمانۍ کې به نور هم مخکې لاړ شي، بیا مونږ نه پوهېږو، کیدای شي حالات بدل شي، نیکي کوونکی نافرمانه شي، او نافرمانه نیک شي، ځکه زړونه د الله تعالی په لاس کې دي څرنګه چې یې خوښه شي هماغه شان ته یې اړوي. او په بخاري او مسلم کې د نعمان بن بشیر رضي الله عنهما څخه روایت دی چې د هغه پلار بشیر بن سعد دې ته یو غلام ډالۍ کړ، نو پیغمبر صلی الله علیه وسلم یې پدې باندې خبر کړ، نو پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «أكلّ ولدك نحلته مثل هذا؟» فقال: لا. فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «فأرجعه»، وفي رواية: «اتّقوا الله، واعدلوا بين أولادكم»، وفي

لفظ: «أشهد على هذا غيري؛ فإنّي لا أشهد على جور»، «ايا تا ټولو بچو ته داسې ډالۍ ورکړې؟» هغه ووېل: نه. نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرماېل: «نو ډالۍ دې بېرته واخله»، او په بل روایت کې دي: «د الله تعالی نه ووېرېږئ، او د بچو تر منځ عدل او انصاف وکړئ»، او په بل لفظ کې دي: «په دې باندې بل څوک ګواه کړه، ځکه زه په ظلم باندې ګواهي نه ورکوم»، نو د ځینو بچو غوره والی په نورو باندې پېغمبر صلی الله علیه وسلم زیاتی وباله، او زیاتی ظلم او حرام دی. خو که چېرته یې یو ته داسې څه ورکړل چې هغه ورته محتاج و، او د بل ورته حاجت نه و، لکه یو زوی د مکتب لپاره قرطاسیې یا علاج، یا واده ته ضرورت لري، نو بیا پروا نه کوي چې ضرورت یې پوره کړي، ځکه چې دا ځانګړنه د ضرورت له وجې ده، نو دا د نفقې په څېر دی.

او هر کله چې پلار خپل حق د بچي سره ادا کړ؛ داسې چې ښه تربیه او نفقه یې ورته ورکړه نو خامخا به زوی د پلار سره نیکي کوي، او د هغه حقونه به مراعتوي، او کله چې پلار د زوی په حقونو کې کوتاهي وکړي نو خامخا به سزا ویني، داسې چې زوی به یې د حق نه انکار کوي، او د هغه په نافرمانۍ به اخته کېږي برابره سزا به ویني، او څه چې کوي هماغه شان به تاسره کېږي.

*

# پنځم حق :د خپلوانو حقونه

هر هغه څوک چې تا ته د خپلولۍ له وجې نږدې وي لکه: ورور، تره (کاکا)، ماما او د دوی بچيان او هر هغه څوک چې تا ته د خپلولۍ له وجې منسوب دې هر يو لره د هغه د خپلولۍ په اندازه حق دی، الله تعالی فرمايلي:

﴿وَآتِ ذَا الْقُرْبَى حَقَّهُ﴾ [الإسراء:26]

(او د خپلولۍ خاوند ته دهغه حق ورکړه)، او الله تعالی فرماېلي:

﴿ وَٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَلَا تُشۡرِكُواْ بِهِۦ شَيۡـٔٗاۖ وَبِٱلۡوَٰلِدَيۡنِ إِحۡسَٰنٗا وَبِذِي ٱلۡقُرۡبَىٰ...﴾[النساء: 36]

(او تاسو د الله عبادت کوئ او له هغه سره هيڅ شی مه شريکوئ او له مور او پلار سره ښېګڼه کوئ او له خپلوانو سره)، نو په هر يو خپلوان باندې لازم دي چې د خپلوانو سره په ښه طريقه سره خپلولي وپالي د عزت، بدني ګټو او مالي ګټو په ورکولو سره څومره چې د خپلولۍ او نږدېکت تقاضا وي، او دا هغه څه دي چې شريعت، عقل او فطرت يې تقاضا کوي. او د خپلولۍ پاللو په اړه ډېر نصوص راغلي، او هغه نږدې خپلوان دي او - دوستۍ ته يې - تشويقول دي، په صحيح بخاري او مسلم کې د ابو هريره رضي الله عنه څخه راغلي هغه فرمايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «إنّ الله خلق الخلق، حتّى إذا فرغ منهم قامت الرّحم، فقالت: هذا مقام العائذ بك من القطيعة! فقال الله: نعم، أما ترضين أن أصل من وصلك، وأقطع من قطعك؟ قالت: بلى. قال: فذلك لك»، «بېشکه الله تعالی مخلوقات پيدا کړل، تر دې چې کله فارغه شو نو خپلولي (رحم) ودريده، ويې ويل: دا په تا باندې د خپلولۍ پرېکوونې څخه د پناه

غوښتلو ځای دی! نو الله تعالی وفرمایل: هو، ایا ته په دې نه خوشحالیږې چې زه هغه څوک ځان ته رانږدې کړم چې تا پالي، او هغه څوک لرې کړم چې تا نه پالي؟ هغې ووېل: هو. الله تعالی وفرمایل: نو هغه ستا شو»، بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «که ستاسو خوښه وي دا آیت تلاوت کړئ:

﴿فَهَلۡ عَسَيۡتُمۡ إِن تَوَلَّيۡتُمۡ أَن تُفۡسِدُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَتُقَطِّعُوٓاْ أَرۡحَامَكُمۡ ٢٢ أُوْلَـٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ لَعَنَهُمُ ٱللَّهُ فَأَصَمَّهُمۡ وَأَعۡمَىٰٓ أَبۡصَـٰرَهُمۡ ٢٣﴾[محمد: 22-23]

نو ایا تاسو، که چېرې حاکمان شئ، دې ته نږدې یئ چې تاسو به په ځمکه کې فساد وکړئ او خپلې خپلولۍ به پرې کړئ»، او پېغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «من كان يؤمن بالله واليوم الآخر فليصل رحمه». «څوک چې په الله تعالی او د اخرت په ورځ ایمان لري نو خپلولي دې وپالي».

او ډېر د خلکو نه دې حق لره ضایع کوونکي دي، په دې کې کوتاهي کوي، ته به يو د دوی نه وګورې چې خپلوان به نه پېژني، نه په مال او نه جاه او په اخلاقو کې، په ورځو او میاشتو به يې نه وېني، او نه يې ملاقات کوي، نه به هغه ته ډالۍ ورکوي، نه به د هغوی نه څه ضرورت او حاجت رفع کوي، بلکې کله کله به ورته د خبرې یا د لاس له لارې او یا د دوارو په ذریعه هغه ته ضرر رسوي، د پردو سره به راشه درشه کوي، او خپلوان به پرېږدي.

او ځینې خلک داسې دي چې که خپلوان ورسره خپلولي پالي دا يې هم پالي، او که هغوی يې ورسره نه پالي دا يې هم نه پالي، او دا په حقیقت کې خپلولي پالونکی ندی، بلکې د نېکۍ مقابل کې نېکي کوونکی دی، او دا خو خلک د خپل او پردې سره هم کوي، ځکه بدله په خپلوان پورې نده خاص، بلکې حقیقي خپلولي پالونکی هغه دی چې د الله تعالی د رضا لپاره خپلولي پالي، او

د هېڅ پروا نه کوي، که هغوی ورسره خپلولي پالي او که نه يې پالي، لکه په «صحيح البخاري» کې چې راغلي د عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما څخه روايت دی چې بېشکه نبي صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «ليس الواصل بالمكافئ، ولكنّ الواصل الّذي إذا قطعت رحمه وصلها»، «د بدلې والا خپلولي پالونکی ندی، بلکې خپلولي پالونکی هغه دی چې که څوک ورسره خپلولي  پرېږدي دا يې پالي»، او يو سړی ترې پوښتنه وکړه، نو ويې ويل: اې د الله تعالى پېغمبره، زما خپلوان دي چې زه ورسره راشه درشه کوم او هغوی ما پرېږدي، زه ورسره نيکي کوم او  هغوی راسره بدي کوي، زه ورسره نرمي کوم، او هغوی زما سره بدي کوي. نو پېغمبر صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «لئن كنت كما قلت فكأنّما تسفّهم الملّ، ولا يزال معك من الله ظهير عليهم ما دمت على ذلك». «که چېرته همداسې وي لکه څنګه چې ته وايې: نو دا داسې ده لکه ته چې په هغوی ګرمې ايرې خورې، او چې تر څو ته داسې يې نو الله تعالى به د هغوی مقابل کې  ستا مدد او مرسته کوي». مسلم روايت کړی.

او که چېرته په صله رحمې کې نور څه نه وي مګر دا چې الله تعالى په دنيا او اخرت کې خپلولي پالونکی پالي، نو په هغه خپل رحمت کوي، کارونه ورته اسانوي، او کړاونه ترې لرې کوي، د دې سره په خپلولۍ پاللو کې د کورنۍ نږديوالی، او د هغوی يو بل سره مينه او محبت او په يو بل شفقت، او په سختيو کې د يو بل سره  مرسته را منځ ته کيږي، او د دې وجې نه پراخي او خوشحالیانې ازمايل شوي او  مالومې دي، او  کله چې خپلولي پرې شي دا ټولې ګټې سر چپه کيږي او له يو بل څخه لرېوالی را منځته کيږي.

*

## شپږم حق :د ښځې او خاوند حقونه

د واده ډېر مهم اثار دي او لوی غوښتنې لري، دا د خاوند او ښځې ترمنځ يوه اړيکه ده چې هر يو باندې د بل ځيني بدني ټولنېزاو  مالي حقونه لازميږي.

نو په دواړو باندې لازم دي چې د يو بل سره په غوره طريقه ژوند وکړي، او د يو بل واجب حقونه په ورين تندي او خوشحالۍ سره ادا کړي، پرته د بد ګنځلو او ځنډ څخه، الله تعالی فرمايلي:

﴿...وَعَاشِرُوهُنَّ بِٱلۡمَعۡرُوفِۚ...﴾[النساء: 19]

(او له دوی سره په ښه طريقه ګذران کوئ). او الله تعالی فرمايلي دي:

﴿...وَلَهُنَّ مِثۡلُ ٱلَّذِي عَلَيۡهِنَّ بِٱلۡمَعۡرُوفِۚ وَلِلرِّجَالِ عَلَيۡهِنَّ دَرَجَةٞۗ...﴾[البقرة: 228]

(او د دستور مطابق د هغو (ښځو) لپاره (په خاوندانو باندې حقونه) دي په شان د هغو (حقونو) چې په دوی باندې لازم دي (د خپلو خاوندانو لپاره) او په دوی باندې د سړيو لپاره درجه شته)، او همدارنګه په ښځه باندې فرض دي چې د خاوند واجب حقوق ادا کړي.

او هر کله چې دواړو د يو بل حقونه ادا کړل نو د دوی ژوند به نيکمرغه او دوامداره وي، او که خبره سرچپه وه نو لانجې او اختلافات به وي، او د دواړو ژوند به کړکېچن وي.

او د ښځې سره د ښو سلوکو، او د هغې د حالاتو خيال کولو باره کې ډير نصوص راغلي دي، او په هر څه کې بشپړتيا ناشونې ده، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «استوصوا بالنّساء خيرا؛ فإنّ المرأة خلقت من ضلع، وإنّ أعوج ما في الضّلع أعلاه، فإن ذهبت تقيمه كسرته، وإن تركته لم يزل أعوج، فاستوصوا بالنّساء»، «د ښځو باره کې يو بل ته دخير سپارښتنه وکړئ، ځکه ښځه له پښتۍ څخه پيداشوېده، او په پښتۍ کې د ټولو نه کږه يې اوچته وي، نو که ته يې سيده کوې ماته به يې کړې، او که پريږدې يې نو تل به کږه وي، نو تاسو د ښځو باره کې د خير

سپارښتني وکړئ»، او په بل روایات کې راغلي دي: «إنّ المرأة خلقت من ضلع، ولن تستقيم لك على طريقة، فإن استمتعت بها استمتعت بها وفيها عوج، وإن ذهبت تقيمها كسرتها، وكسرها طلاقها»، «بېشکه ښځه د پښتۍ څخه پیداشوې، نو هېڅکله تا ته په یوه لاره نه برابرېږي، نو که خوند ترې اخلې نو خوند ترې واخله پداسې حال چې هغه به کږه وي، او که ته یې سېده کوې نو ماته به یې کړې، او ماتول یې طلاقول دي»، او نبي صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «لا يفرك مؤمن مؤمنة، إن كره منها خلقا رضي منها خلقا آخر»، «مومن سړی د مومنې ښځې سره بغض او کینه نه کوي، که یو عادت یې نه وي خوښ بل عادت به یې خوښ وي»، او د «لا یفرک» معنی ده: حسد او بغض ورسره نه کوي. نو په دې حدیثونو کې: پېغمبر صلى الله عليه وسلم خپل امت ته ښوونه کوي چې سړی به د ښځې سره څنګه تعامل کوي؟ او په کار ده هر عادت یې چې وي هغه باندې بسنه وکړي، ځکه د هغې پیدایشي عادت دا دی چې دا به پوره نه وي، بلکې خامخا به  یکې کوږوالی وي، او سړی نشي کولی چې خوند ترې واخلي مګر په طبیعي پیداښت چې دا پرې پیداشوې ده.

او په دې حدیثونو کې دا دي چې: انسان باید په ښځه کې د ښو او بدو ترمنځ مقارنه وکړي، نو که یو عادت یې نه خوښېږي نو د هغه بل ښه عادت سره دې یې موازنه کړي، او دې ته دې د حسد او غصې په دروېین نه ګوري.

او ډېری خاوندان د خپلو ښځو نه پوره والی غواړي، او دا یو غیر ممکن او ناشونی کار دی، او لدې وجې دوی په کړکېچ کې واقع کېږي او د خپلو ښځو نه خوندونه او مزې نشي اخستلی. او کله کله دا خبره طلاق ته ورسېږي لکه چې پیغمبر صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «وإن ذهبت تقيمها كسرتها، وكسرها طلاقها» «نو که ته کوښښ کړې چې سیده یې کړې ماته به یې کړې، او ماتوالی یې طلاق ورکول دي»، نو خاوند لره پکار دي چې نرمي

وکړي او د ښځې د بدو عادتونو څخه چشم پوشي وکړي کله چې دا عادتونه دين او عزت ته نقصان نه رسوي. او په خاوند د ښځو د حقونو څخه دا دي چې: د هغې واجبه خرچه لکه خوراک، څښاک، کالي (جامې)، د اوسېدو ځای او ددې متعلقات برابر کړي، د الله تعالی د دې وينا له وجې:

﴿... وَعَلَى الْمَوْلُودِ لَهُ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ ...﴾ [البقرة: 233]

«او د چا لپاره چې بچي دي په هغه باندې ددغو (ښځو) نفقه او د دوی جامه ده په ښې طريقې سره»، او پيغمبر صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «ولهنّ عليكم رزقهنّ وكسوتهنّ بالمعروف»، «او په تاسو د هغوی روزي او کالي په ښه (د دستور مطابق) طريقه لازمه دي»، او پوښتنه ترې وشوه: چې په مونږ باندې د ښځې څه حق دی؟ نو هغه وفرمايل: «أن تطعمها إذا طعمت، وتكسوها إذا اكتسيت، ولا تضرب الوجه، ولا تقبّح، ولا تهجر إلّا في البيت» «کله چې ته خوراک کوې هغې ته به هم خوراکورکوې، او کله چې ته کالي اغوندې هغې ته به هم کالي جوړوې، او مخ به ورله نه وهې، او ښکنځلې او بدرد به ورته نه وايې، او د هغې څخه به لرې والی نه کوې مګر په کور کې ». ابو داود روايت کړی. او په خاوند باندې د ښځې دحقونو څخه دا دي چې: د هغې او د هغې د بنې ترمنځ بايد انصاف وکړي که چېرته دويمه مېرمن ولري، د هغوی ترمنځ په خرچه، د اوسېدو ځای او په شپې تېرولو او ټولو هغه څه کې چې عدل پکې ممکن وي عدل وکړي، ځکه يوې ته مايل کېدل له غټو ګناهونو څخه دي پيغمبر صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «من كانت له امرأتان، فمال إلى إحداهما، جاء يوم القيامة وشقّه مائل»، «د چا چې دوه ښځې وي، نو هغه يوې ته مايل شي، نو د يو قيامت په ورځ به راشي پداسې حال کې چې يو طرف به يې کوږ وي» او هغه څه چې عدل

پکې نشي کېدلی، لکه: مينه محبت او د زړه ارامتيا، نو پدې کې په ده باندې ګناه نشته، ځکه دا د دې په توان کې نه دي، الله تعالی فرمايلي:

﴿وَلَن تَسۡتَطِيعُوٓاْ أَن تَعۡدِلُواْ بَيۡنَ ٱلنِّسَآءِ وَلَوۡ حَرَصۡتُمۡۖ...﴾[النساء: 129]

(او تاسو به کله هم (دا) وس ونه لرئ چې د ښځو په منځ کې انصاف وکړئ اګر که تاسو (د دې) حرص (هم) وکړئ). او پيغمبر صلی الله عليه وسلم به د خپلو بيبيانو -رضي الله عنهن- ترمنځ تقسيم کاوه، نو انصاف به يې کاوه، او ويل به يې: «اللّهمّ هذا قسمي فيما أملك، فلا تلمني فيما تملك ولا أملك». «اې الله! دا زما تقسيم دی په هغه څه کې چې زه يې لرم، نو ته ما په هغه څه مه نيسه چې ستا په واک کې دي او زه يې واک نه لرم». خو که يوه يې د بلې په رضايت سره په شپې تېرولو کې غوره کړه نو بيا څه پروا نه کوي، لکه رسول الله صلی الله عليه وسلم به چې د سودې -رضي الله عنها- د شپې نمبر عايشې -رضي الله عنها- ته ورکاوه، کله چې هغې خپل نمبر عايشې ته ډالۍ کړی و، او پيغمبر صلی الله عليه وسلم به د خپل مرګ په بيمارۍ کې پوښتنه کوله «أين أنا غدا؟ أين أنا غدا؟» «سبا زه د چا کره يم؟ سبا زه د چا کره يم؟» نو بيبيانو يې ورته اجازه ورکړه چې چېرته يې خوښه وي هلته دې وي، نو هغه د عايشې -رضي الله عنها- په کور کې و تر دې چې وفات شو. هر چې په ښځه باندې د خاوند حقونه دي، هغه د هغې د حقونو څخه لوی دي، د الله تعالی د دې وينا له وجې:

﴿...وَلَهُنَّ مِثۡلُ ٱلَّذِي عَلَيۡهِنَّ بِٱلۡمَعۡرُوفِۚ وَلِلرِّجَالِ عَلَيۡهِنَّ دَرَجَةٞۗ و...﴾[البقرة: 228]

(او  د دستور مطابق د هغو (ښځو) لپاره (په خاوندانو باندې حقونه دي) په شان د هغو (حقونو) چې په دوی باندې لازم دي (دخپلو خاوندانو لپاره) او دوی باندې د سړيو لپاره درجه شته)، او سړی په ښځه باندې نګران او واکدار دی، د هغې مصلحتونه به سر ته رسوي، او هغې ته به ادب او سمه لاره ورښايي، لکه چې الله تعالی فرمايلي:

﴿ٱلرِّجَالُ قَوَّٰمُونَ عَلَى ٱلنِّسَآءِ بِمَا فَضَّلَ ٱللَّهُ بَعۡضَهُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖ وَبِمَآ أَنفَقُواْ مِنۡ أَمۡوَٰلِهِمۡۚ...﴾[النساء: 34]

(سړي په ښځو باندې نګرانان دي په سبب د دې چې الله د دوی ځينې په ځينو نورو باندې غوره کړي دي او په سبب د دې چې دوی (سړي) له خپلو مالونو نه انفاق کوي). نو په ښځه باندې د خاوند د حقونو څخه دا دي: چې د هغه خبره به مني کله چې د الله تعالی نافرماني پکې نه وي، او د هغه د راز او مال ساتنه به کوي، بېشکه پېغمبر صلى  الله عليه وسلم فرمايلي: «لو كنت آمرا أحدا أن يسجد لأحد لأمرت المرأة أن تسجد لزوجها»، «که ما چېرته چا ته دا امر کولی چې چا ته دې سجده وکړي نو ما به ښځې ته امر کړی وی چې خپل خاوند ته سجده وکړي»، او پېغمبر صلى  الله عليه وسلم فرمايلي: «إذا دعا الرّجل امرأته إلى فراشه، فأبت أن تجيء، فبات غضبان عليها، لعنتها الملائكة حتّى تصبح». «کله چې يو سړی خپله ښځه بسترې ته راوغواړي، نو هغه د راتګ څخه انکار وکړي، نو دا سړی د غصې په حالت کې شپه تېره کړي، نو ملايکې پرې تر سبا پورې لعنت وايي». او په هغې باندې د هغه دحقونو څخه دا دي چې: داسې يو کار  به نه کوي چې د هغه په وجه د هغه پوره خوند اخيستلو ته زيان رسېږي اګر که دا نفلي عبادت هم وي، د پېغمبر صلى الله عليه وسلم د دې وينا له وجې: «لا يحلّ لامرأة أن تصوم وزوجها

شاهد إلّا بإذنه، ولا تأذن لأحد في بيته إلّا بإذنه». «هېڅ یوې ښځې لره ندي روا چې (نفلي) روژه ونیسي او خاوند يې په کور کې وي مګر د هغه په اجازې سره، او په خپل کور کې به د هغه د اجازې پرته بل چا ته اجازه هم نه ورکوي». او پېغمبر - صلى الله عليه وسلم - د ښځې څخه د خاوند رضا جنت ته د هغې د داخلېدو له سببونو څخه شمېرلي دي، ترمذي د ام سلمة رضي الله عنها نه روایت کوي چې ببېشکه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «أيّما امرأة ماتت وزوجها عنها راض دخلت الجنّة». «کومه ښځه چې مړه شي او خاوند يې ترې راضي او خوشحاله وي نو دا به جنت ته داخله شي».

*

# اووم حق :د واکدارانو (حاکمانو) او د رعیت حقونه

واکمنان: هغه خلک دي چې دمسلمانانو چارې پر مخ وړي، برابره خبره ده که دا عامه واکمني وي لکه مشر ریس په حکومت کې، او که خاص مشري وي لکه په یوه اداره یا یو کار باندې مشر، په رعیت باندې د دې ټولو حقونه دي چې باید پوره یې کړي، او همدارنګه په دوی باندې هم د خپل رعیت حقونه دي.

نو په والیانو (واکدارانو) باندې د رعیت حقونه دا دي چې: خپل امانت چې کوم دوی ته الله تعالی ورکړی او د هغه په کولو باندې یې مکلف کړي په سمه توګه سر ته ورسوي، لکه د رعیت لپاره خیر خواهي، او هغوی په سمه لاره بوتلل کومه چې د دنیا او اخرت د ښېګڼو ضامنه ده. او دا د مسلمانانو له لارې څخه په پیروۍ کولو باندې کیدای شي، او دا هغه لار ده چې پېغمبر صلی الله علیه وسلم ورباندې و، نو پدې کې د خپل رعیت او خپلو کشرانو لپاره نېکبختي او خوشحالي ده، او دا غوره لار ده چې په دې سره رعیت د خپلو واکمنانو څخه خوشحالېدلی شي، او د هغوی ترمنځ اړیکي جوړیدلی شي، او د هغوی حکمونو ته غاړه ایښودلی شي او په ورسپارل شوي ذمه وارۍ کې امانت دار کیدلی شي، نو څوک چې د الله تعالی نه وویرېده خلک به ترې وویریږي، او چا چې الله تعالی خوشحاله کړ الله تعالی به یې د خلکو د روزۍ (خرچو) نه خلاص کړي او خلک به ترې هم راضي کړي، ځکه چې زړونه د الله تعالی په لاس کې دي چې څرنګه یې خوښه شي هماغه طرف ته یې اړوي. او هر چې د چارواکو حقونه دي په رعیت باندې نو هغه دا دي: هغوی ته نصیحت (خیرخواهي) کول په هغو کارونو کې چې انسان ته ورسپارل کیږي، او کله چې هغوی غافله شي باید یادونه یې وشي، او کله چې د حق څخه واوړي باید دعا ورته وشي، او د هغوی حکم عملي کول کله چې

د الله تعالی نافرماني پکې نه وي، ځکه چې پدې سره دکارونو سمون او انتظام دی او د دوی په خلاف او نافرمانۍ کې د خپل سرۍ او فساد خپرېدل دي، او د دې وجې نه الله تعالی په خپلې او د پېغمبر او د چارواکو په تابعدارۍ باندې امر کړی. نو الله تعالی فرمايلي:

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ وَ أُوْلِي ٱلۡأَمۡرِ مِنكُمۡۖ...﴾[النساء: 59]

(اې هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! د الله تعالی خبره ومنئ او د رسول خبره ومنئ او د خپلو د امر خاوندانو)، او پېغمبر صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «على المرء المسلم السّمع والطّاعة فيما أحبّ وكره، إلّا أن يؤمر بمعصية، فإذا أمر بمعصية فلا سمع، ولا طاعة» متّفق عليه.
«په مسلمان باندې خبره منل او تابعداري کول لازم دي په هغه څه کې چې هغه يې خوښوي او يا يې بد ګڼي، مګر دا چې په ګناه ورته امر وشي؛ نو که په ګناه ورته امر وشي نو بيا نه خبره منل شته، او نه تابعداري».
بخاري او مسلم روايت کړي. او عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما فرمايلي: مونږ د پېغمبر صلى الله عليه وسلم سره په سفر کې وو، نو يو ځای ته ورغلو، نو د رسول الله صلى الله عليه وسلم اواز کوونکي اواز وکړ، نو ويې ويل: «الصّلاة جامعة» نو مونږ ټول رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راټول شو، نو ويې ويل: «إنّه ما من نبيّ بعثه الله إلّا كان حقا عليه أن يدلّ أمّته على خير ما يعلمه لهم، وينذرهم شرّ ما يعلمه لهم، وإنّ أمّتكم هذه جعلت عافيتها في أوّلها، وسيصيب آخرها بلاء، وأمور تنكرونها، وتجيء فتنة، فيرقّق بعضها بعضا، وتجيء الفتنة، فيقول المؤمن: هذه مهلكتي. وتجيء الفتنة، فيقول المؤمن: هذه، هذه. فمن أحبّ أن يزحزح عن النّار، ويدخل الجنّة، فلتأته منيّته وهو يؤمن بالله واليوم الآخر، وليأت

إلى النّاس الّذي يحبّ أن يؤتى إليه، ومن بايع إماما، فأعطاه صفقة يده، وثمرة قلبه، فليطعه إن استطاع، فإن جاءه آخر ينازعه فاضربوا عنق الآخر». «بېشکه الله تعالى هېڅ پېغمبر ندی لېږلی مګر په هغه باندې واجب وو چې خپل امت ته هغه خير وښايي چې هغه ته معلوم وي، او کوم شر چې پېژني د هغه څخه يې ووېروي، او ستاسو د دې امت ژغورل په اول کې دي، او وروستنيو ته به يې مصيبت رسېږي، او داسې کارونه به وي چې تاسو به يې نااشنا ګڼئ، او يوه فتنه به راځي، نو يوه به د بلې له وجې وړه ښکاري، او نورې فتنې به راشي، نو مومن به وايي: دا زما د هلاکت سبب دی، او بله فتنه به راشي، نو مومن به وايي: دا ده، دا ده. نو څوک چې غواړي چې د اور نه لرې شي، او جنت ته داخل شي، نو په داسې حال کې دې ورته مرګ راشي چې دا په الله تعالى او د اخرت په ورځ ايمان لري، او خلکو سره دې هغه سلوک کوي چې دا خوښوي چې د دې سره دې وشي، او چا چې د يو امام سره بيعت وکړ، نو هغه لره يې خپل لاس ورکړ، او د زړه ميوه يې ورکړه، نو د خپل توان په اندازه دې د هغه تابعداري وکړي، نو که بل يو راشي چې د دې سره پکې جګړه کوي نو د وروستني څټ دې ووهي». مسلم روايت کړی، وسأل النّبيّ صلى الله عليه وسلم رجل، فقال: يا نبيّ الله، أرأيت إن قامت علينا أمراء يسألونا حقّهم، ويمنعونا حقّنا، فما تأمرنا؟ فأعرض عنه، ثمّ سأله مرّة ثانية، فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «اسمعوا وأطيعوا، فإنّما عليهم ما حمّلوا، وعليكم ما حمّلتم». او يو سړي د پېغمبر صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه، نو ويې ويل: خبر راکړه که چېرته مونږ باندې داسې مشران مقرر شي چې خپل حق زمونږ څخه غواړي، او مونږ ته زمونږ حقونه نه راکوي، نو ته مونږ ته څه امر کوې، نو هغه ترې مخ واړوه، بيا يې ترې دويم ځل پوښتنه وکړه، بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

«تاسو خبره منئ او تابعداري کوئ، نو په هغوی باندې هغه ذمواري ده چې هغوی ته ورکړل شوي، او په تاسو هغه ذمه واري ده چې تاسو ته درکړل شوي».

او د زمامدارانو د حقونو څخه په خپل رعيت باندې: د خپلو زمامدارانو سره د هغوی په چارو کې مرسته کول دي، داسې چې کوم کار ورته سپارل شوي وي چې هغه په سمه توګه سر ته ورسوي، او د دې لپاره چې چارې په سمه توګه پر مخ لاړې شي بايد هر يو کس په ټولنه کې خپل کار وپېژني، ځکه که رعيت دخپلو چارواکو سره مرسته ونه کړي نو چارې په سمه توګه پر مخ نه ځي.

*

# اتم حق :د ګاونډیانو حق

ګاونډی: هغه څوک چې تا ته په کور کې نږدې وي، او د هغه په تا باندې ډېر لوی حق دی، نو که چېرته ستا خپلوان و او مسلمان هم و نو بیا یې درباندې درې حقونه دي: د ګاونډ حق، د خپلولۍ حق او د اسلام حق، او که چېرته مسلم و او نسبي خپلوان دې نه و نو بیا یې دوه حقونه دي: د ګانډ حق او د اسلام حق، او که چېرته دې خپلوان وي او مسلمان نه وي نو بیا یې هم دوه حقونه دي: د ګاونډ حق او د خپلولۍ حق، او که چېرته دې خپلوان نه وي او مسلمان هم نه وي نو بیا یې یو حق دی: د ګاونډ حق. الله تعالی فرمايلي:

﴿...وَبِٱلْوَٰلِدَيْنِ إِحْسَـٰنًا وَبِذِى ٱلْقُرْبَىٰ وَٱلْيَتَـٰمَىٰ وَٱلْمَسَـٰكِينِ وَٱلْجَارِ ذِى ٱلْقُرْبَىٰ وَٱلْجَارِ ٱلْجُنُبِ وَٱلصَّاحِبِ بِٱلْجَنۢبِ...﴾[النساء: 36]

(او له مور او پلار سره ښېګڼه کوئ او له خپلوانو سره او یتیمانو او مسکینانو سره او له خپلوان ګاونډي سره او د څنګ له ګاونډي سره او د څنګ له ملګري سره)، او پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمايلي: «ما زال جبريل يوصيني بالجار حتّى ظننت أنّه سيورّثه» «جبریل ما ته همېشه د ګاونډي باره کې وصیت کاوه تر دې چې ما دا ګومان وکړ چې شاید دا به د ګاونډي نه میراث وړي» بخاري او مسلم روایت کړی. په ګاونډي باندې د ګاونډي له حقونو څخه یو دا دی چې له هغه سره په مال، د عزت په ساتنه او هغه ته له وسې سره سم په ګټې رسولو کې نیکي وکړي. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: «خير الجيران عند الله خيرهم لجاره»، «د الله تعالی په وړاندې غوره ګاونډی هغه دی چې د خپل ګاونډي سره ښه وي»، او فرمايلي يې دي: «من كان يؤمن بالله واليوم الآخر فليحسن إلى جاره»، «څوک چې په الله تعالی او په ورځ د اخرت ایمان لري نو د

خپل ګاونډي سره دې نېکي وکړي»، او همدارنګه يې فرمايلي دي: «إذا طبخت مرقة فأكثر ماءها، وتعاهد جيرانك». «کله چې دې ښوروا پخوله نو اوبه يې زياتې کړه، او ګاونډيان درسره وپاله».

او ګاونډي سره له ښېګڼو څخه هغوی ته په مناسبتونو کې ډالۍ ورکول دي، ځکه ډالۍ سره مينه زياتېږي، او دښمني له منځه وړي.

او په ګاونډي د ګاونډي دحقونو څخه دا دي: چې هغه ته په خوله او په لاس ضرر ونه رسوي، بېشکه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «والله لا يؤمن، والله لا يؤمن، والله لا يؤمن»، فقالوا: من يا رسول الله؟ قال: «الّذي لا يأمن جاره بوائقه»، «والله مومن کيدی نشي، والله مومن کيدی نشي، والله مومن کيدی نشي» صحابو وفرمايل: څوک اې د الله تعالى پيغمبره؟ هغه وفرمايل: هغه څوک چې ګاونډی يې د ضرر نه په امان کې نه وي»، او په بل روايت کې دي: «لا يدخل الجنّة من لا يأمن جاره بوائقه»، «هغه څوک جنت ته نشي داخلېدلی چې ګاونډی يې د ضرر نه په امان کې نه وي»، او بوائق: تکليفونو ته وايي، نو د چا د شر نه چې ګاونډی په امان کې نه وي نو دا مومن نه دی، او جنت ته به نشي داخلېدلی. او نن سبا ډيری خلک د ګاونډيانو حقونو ته پاملرنه نه کوي، او ګاونډيان د هغوی له شرونو څخه په امان کې نه وي، نو ته به هرکله دوی وينې چې يو بل سره لانجې او جګړې کوي او د يو بل په حقونو باندې تيری کوي، او په ژبه او لاس به ضرر ورسوي. او دا ټول د الله او د هغه د پيغمبر د اوامرو خلاف دي، او د مسلمانانو د تفرقې، د زړونو د لرې والي او يو بل ته د درناوي کولو د مخنيوي لامل ګرځي.

*

## نهم حق :د مسلمانانو عمومي حقونه

او دا حقونه ډېر زيات دي، ځيني يې دا دي: کوم چې صحيح حديث کې راغلي چې پيغمبر صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «حقّ المسلم على المسلم ستّ: إذا لقيته فسلّم عليه، وإذا دعاك فأجبه، وإذا استنصحك فانصحه، وإذا عطس فحمد الله فشمّته، وإذا مرض فعده، وإذا مات فاتّبعه»، « يو مسلمان پر بل شپږ حقونه لري: کله چې ورسره مخ شوې نو سلام پرې واچوه او کله يې چې بلنه درکړه نو ويې منه او کله يې چې درڅخه د نصيحت غوښتنه وکړه نو نصيحت ورته وکړه او کله چې ناروغ شو نو پوښتنه يې وکړه او کله چې مړ شو نو جنازې پسې يې لاړ شه»، نو په دې حديث کې د مسلمانانو ترمنځ د ځينو حقونو يادونه شوېده: لومړی حق: سلام اچول دي، سلام اچول موکد سنت دي، او دا د مسلمانانو ترمنځ د يووالي او مينې د اسبابو څخه دي، لکه څنګه چې دا ليدل شوي، او لکه د پيغمبر صلى الله عليه وسلم دا وينا چې پرې دلالت کوي: «والله، لا تدخلوا الجنّة حتّى تؤمنوا، ولا تؤمنوا حتّى تحابّوا، أفلا أخبركم بشيء إذا فعلتموه تحاببتم؟ أفشوا السّلام بينكم». «په الله قسم دی، چې تاسو تر هغه وخته جنت ته نشئ داخلېدلی ترڅو ايمان رانه وړئ، او تر هغه وخته ايمان نشئ راوړلی ترڅو يو بل سره مينه محبت ونه کړئ، ايا زه تاسو ته يو شی نه در ونه ښايم چې کله يې تاسو وکړئ يو بل سره به مو مينه او محبت پيداشي؟ په خپل منځ کې سلام عام کړئ».

او پيغمبر صلى الله عليه وسلم سره چې به څوک مخامخ شو نو لومړی به ئې پرې سلام کاوه، او چې په ماشومانو به تېرېده هم به يې پرې سلام کاوه.

او سنت طريقه داده چې کشر به په مشر، لږ په ډېرو او سپور کس به په پياده باندې سلام کوي، او که چېرته دې کسانو کې لومړی کس سلام ونه کړي نو دا بل کس به سلام کوي، هسې نه چې سلام پاتې شي، نو چې کشر

سلام ونه کړ مشر دې وکړي، او که لږو کسانو ونه کړ، ډیر دې وکړي، د دې لپاره چې ثواب تر لاسه کړي.

عمار بن یاسر رضي الله عنهما فرمايلي: «ثلاث من جمعهنّ فقد استكمل الإيمان: الإنصاف من نفسك، وبذل السّلام للعالم، والإنفاق من الإقتار». «درې ښویونه چې په چا کې وي نو ایمان یې پوره شو: د خپل ځان باره کې انصاف، ټول عالم ته سلام کول، او په غریبۍ کې صدقه کول». او که دسلام اچول سنت دي نو جواب ورکول يې فرض كفايي دی، کله چې ځینې خلک جواب ورکړي د نورو نه دا کافي کیږي، نو که په یو ټولي باندې سلام واچوي، او یو کس ترې ځواب ورکړي نو د نورو نه دا کافي کیږي، الله تعالی فرمايلي:

﴿وَإِذَا حُيِّيتُم بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّواْ بِأَحۡسَنَ مِنۡهَآ أَوۡ رُدُّوهَآۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٍ حَسِيبًا ٨٦﴾[النساء: 86]

[او کله چې تاسو ته په سلام ویلو سره دعا وکړی شي، نو تاسو له هغې نه غوره جواب ورکړئ، یا هم هغه ور وګرځوئ]. او د سلام په ځواب کې دا بس نه ده چې صرف ووايي: (په خیر راغلی)، ځکه چې دا د هغه نه غوره ندی او د هغه په شان هم ندی، نو کله چې ووايي: «السلام عليكم» نو ودې وايي: «وعليكم السلام»، او کله چې ووايي: «پخير راغلې» نو دا دې ورته هم ووايي: «پخير راغلې»، د هماغه په شان، او که سلام يې ورسره اضافه کړ نو دا غوره ده.

دويم حق: «کله چې یې دعوت دکړو نو قبول یې کړه» یعني: کله چې تا ډوډۍ خوړلو یا بل څه لپاره راوغواړي، نو قبول یې کړه، ځکه د دعوت قبلول موکد سنت دي، او په دې د دعوت کوونکي زړه خوشحالیږي، او د یو بل سره مینه او محبت زیاتیږي.

او د دې نه د واده ولیمه مستثنا ده، ځکه د واده ولیمې دعوت قبلول واجب دي په معلومو شرطونو سره، د پېغمبر صلى الله عليه وسلم د دې وینا له وجې: «ومن لم يجب فقد عصى الله ورسوله». «او چا چې (د ولیمې) دعوت قبول نه کړ، نو بېشکه دې کس د الله تعالی او د هغه د پېغمبر نافرماني وکړه». او شاید دا وینا يې «إذا دعاك فأجبه» د مرستې او کومک لپاره دعوت ته هم شامل وي، نو تا ته د هغه د قبلولو امر شوی دی، نو که تا د څه شي د پورته کولو یا غورځولو یا نور څه لپاره وغواړي نو ته د هغه په مرسته کولو باندې مامور يې، د پېغمبر صلى الله عليه وسلم د دې وینا له وجې: «المؤمن للمؤمن كالبنيان يشدّ بعضه بعضا». «مسلمان د بل مسلمان لپاره د ابادۍ په شان دی یو بل مضبوطوي».
درېم حق: «کله چې درنه نصیحت وغواړي نو نصیحت ورته وکړه» یعنې: کله چې تا ته راشي چې ستا نه د یو شي باره کې نصیحت غواړي نو نصیحت ورته وکړه، ځکه چې دا د دین څخه دي، لکه پېغمبر صلى الله عليه وسلم چې فرمایلي: «الدّين النّصيحة: لله، ولكتابه، ولرسوله، ولأئمّة المسلمين، وعامّتهم». «دین خیر خواهي ده: الله تعالی لره، او د هغه کتاب لره، او د هغه پېغمبر لره، او د مسلمانانو چارواکو لره، او عامو مسلمانانو لره». او که چېرته ستا نه خیرخواهي ونه غواړي، او په هغه باندې څه تکلیف او یا د څه کار په کولو کې ګناه وي نو په تا باندې واجب دي چې هغه ته نصیحت وکړې، اګر که تا ته رانشي، ځکه چې دا د مسلمانانو نه د ضرر او ګناه لرې کول دي، او که په هغه باندې د څه کار په کولو کې ضرر او ګناه نه وي، خو ته په دې پوهېږې چې د دې نه پرته دا بل کار دې لره غوره دی، نو بیا په تا باندې هغه ته څه ویل واجب نه دي مګر که ستا نه نصیحت وغواړي، نو بیا ورته نصیحت کول لازمېږي.

څلورم حق: کله چې پرنجی وکړي، نو د الله تعالی ثنا ووايي، نو دعا ورته وکړه» یعنې: داسې ورته ووایه: «الله تعالی دې پر تا رحم وکړي»، د پرنجي په

وخت کې د هغه د الله تعالی د یادونې د منڼې په وجه، او که پرنجی وکړي او د الله تعالی ثنا ونه وایي، نو بیا یې حق نشته، نو دا دعا به ورته نه کیږي، دا ځکه چې هغه کله د الله تعالی حمد بیان نه کړ نو دا یې سزا ده چې دعا به ورته نه کیږي.

او پرنجي کوونکي ته دعا کول کله چې د الله تعالی حمد بیان کړي فرض ده، او په هغه باندې جواب ورکول فرض دي، داسې به وایي: «يهديكم الله، ويصلح بالكم». «الله تعالی دې تاسو ته هدایت وکړي، او ستاسو چارې دې برابرې کړي».

او که پرنجې یې اوږد شي، او درې کرته ورته دعا وکړې، نو څلورم کرت ورته ووایه: «عافاك الله»، (الله تعالی دې روغ کړه) په ځای د دې چې ورته ووایې: «يرحمك الله» «الله تعالی دې درباندې رحم وکړي».

پنځم حق: «إذا مرض فعده»، (کله چې مریض شي نو پوښتنه یې وکړه)، او د مریض پوښتنه: د هغه ملاقات کول دي، او دا د مریض په خپلو مسلمانانو ورونو باندې حق دی، نو مسلمانانو لره په کار ده چې د هغه ملاقات ته ورشي، او د مریض چې په تا باندې څومره د خپلولۍ یا دوستۍ یا ګاونډیتوب حق وي هغومره یې پوښتنه کول ضروري ده.

او د ناروغ پوښتنه د ناروغ د حال او د مرض مطابق په کار ده، ځینې حالتونو کې مریض ته ډېر تلل اړین وي، او په ځینو حالتونو لږ ورتلل اړین وي، نو د حالتونو مراعات کول غوره دي.

او د ناروغ د پوښتنې په وخت کې سنت دا دي چې: د هغه د حال پوښتنه وکړي، او دعا ورته وکړي، او د امېد او ارامۍ خبرې ورته وکړي؛ ځکه دا د روغتیا او شفا د لویو سببونو څخه دي. او باید ناروغ ته په ښه توګه توبه وریاده کړي، مثلا داسې ورته ووایي: تا ته پدې ناروغۍ سره ثواب در رسېږي، ځکه په مرض سره الله تعالی لوی او واړه ګناهونه ختموي، او شاید ته په

خپلو دې بند پاتې کېدلو سره د ډېر ذکر او استغفار او دعا له وجې ډېر اجرونه وګټې. شپږم حق: «إذا مات فاتّبعه»، (کله چې مړ شي نو جنازه يې وکړه)، ځکه چې په جنازې پسې تلل د مسلمان په خپل مسلمان ورور باندې حق دی، او په دې کې ډېر لوی اجر دی، نو د پيغمبر صلى الله عليه وسلم څخه رانقل شوي چې هغه فرمايلي: «من تبع الجنازة حتّى يصلّى عليها فله قيراط، ومن تبعها حتّى تدفن فله قيراطان»، قيل: وما القيراطان؟ قال: «مثل الجبلين العظيمين». «څوک چې جنازې پسې لاړ شي تر دې چې د جنازې لمونځ ادا کړي نو دې لره د يو قيراط په اندازه اجر دی، او څوک چې ورپسې د دفن کولو پورې لاړ شي نو د دې دوه قيراطه اجر دی»، پوښتنه وشوه: قيراطان څه ته وايي: هغه وفرمايل: «د دوه لويو غرونو په شان». او د مسلمان په مسلمان باندې د حقونو څخه دا دي: هغه ته ضرر نه رسول، ځکه د مسلمان په تکليف کولو کې ډېره لويه ګناه ده، الله تعالى فرمايلي:

﴿وَٱلَّذِينَ يُؤۡذُونَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ بِغَيۡرِ مَا ٱكۡتَسَبُواْ فَقَدِ ٱحۡتَمَلُواْ بُهۡتَٰنٗا وَإِثۡمٗا مُّبِينٗا ٥٨﴾[الأحزاب: 58]

او هغه کسان چې مومنو سړيو او مومنو ښځو ته په ناکړي کار(او ناکرده ګناه) تکليف رسوي، نويقينًا دوى په خپل ځان غټ دروغ او ښکاره ګناه باروي ډېر احتمال شته چې څوک پر خپل ورور ظلم وکړي او هغه ته ضرر ورسوي، نو الله تعالى به له آخرت څخه مخکې په دې دنيا کې له هغه څخه انتقام واخلي. او پيغمبر صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «لا تباغضوا، ولا تدابروا، وکونوا عباد الله إخوانا، المسلم أخو المسلم لا يظلمه، ولا يخذله، ولا يحقره، بحسب امرئ من الشّرّ أن يحقر أخاه المسلم، کلّ المسلم على المسلم حرام؛ دمه وماله وعرضه». «"له يو

بل سره کينه مه کوئ، او (يو بل ته شا مه اړوئ) يو له بل څخه مه جلا کيږئ، او د الله تعالی بنده ګان او ورونه اوسئ، مسلمان د مسلمان ورور دی، هغه باندې ظلم نه کوي، نه يې رسوا کوي او نه يې سپکوي، د مسلمان لپاره د شر نه دومره بس دی چې د خپل مسلمان ورور سپکاوی وکړي، هر مسلمان پر مسلمان حرام دی؛ د هغه وينه، مال او عزت». او د مسلمان په بل مسلمان باندې ډير حقونه دي، او شايد د دې لپاره راټولونکی معنا د پيغمبر صلى الله عليه وسلم دا وينا وي: «المسلم أخو المسلم»، «مسلمان د مسلمان ورور دی»، نو کله چې هغه د دې ورورولۍ له مخې چلند کوي، هغه هڅه کوي چې د هغه لپاره ښه وي، او د هر هغه څه څخه ډډه وکړي چې هغه ته زيان رسوي.

*

# لسم حق :د غير مسلمانانو حق

غير مسلمانان ټولو کافرانو ته ويل کېږي، او هغوی څلور ډوله دي: جنګيان، امن غوښتونکي، تړون کوونکي، او ذميان،

نو هر چې جنګيان دي نو د هغوی پر مونږ باندې د ساتلو او حفاظت کوم حق نشته.

لېکن امن غوښتونکي چې دي مونږ باندې د هغوی امن او ساتنه د ټاکلي ځای او وقت پورې ده، د الله تعالی د دې وينا د وجې:

﴿وَإِنۡ أَحَدٞ مِّنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ٱسۡتَجَارَكَ فَأَجِرۡهُ حَتَّىٰ يَسۡمَعَ كَلَٰمَ ٱللَّهِ ثُمَّ أَبۡلِغۡهُ مَأۡمَنَهُۥۚ...﴾ [التوبة: 6]

[او که په مشرکانو کې يو تن له تا نه امان (پناه) وغواړي، نو هغه ته امان ورکړه تر هغه پورې چې هغه د الله کلام واوري، بيا هغه خپل د امن ځای (وطن) ته ورسوه]، او هر چې معاهدين دي نو په مونږ باندې د هغې نبټې پورې د تړون خيال ساتل دي چې زمونږ او د هغوی ترمنځ په اتفاق نامه کې راغلي تر څو چې هغوی زمونږ سره په خپل تړون باندې ولاړ وي او څه شی يې رانه نه وي کم کړي، او زمونږ خلاف يې د چا مرسته هم نه وي کړې، او زمونږ په دين پسې يې بد رد هم نه وي ويلي، د الله تعالی د دې وينا له وجې:

﴿إِلَّا ٱلَّذِينَ عَٰهَدتُّم مِّنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ثُمَّ لَمۡ يَنقُصُوكُمۡ شَيۡـٔٗا وَلَمۡ يُظَٰهِرُواْ عَلَيۡكُمۡ أَحَدٗا فَأَتِمُّوٓاْ إِلَيۡهِمۡ عَهۡدَهُمۡ إِلَىٰ مُدَّتِهِمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلۡمُتَّقِينَ ٤﴾[التوبة: 4]

[مګر په مشرکانو کې هغه کسان چې تاسو ورسره عهد کړی دی، بيا هغوی تاسو ته هيڅ شی نقصان نه دی دررسولی او نه يې ستاسو په

مقابل کې د هېڅا مدد کړی دی، نو هغوی ته خپل عهد د هغوی د مودې پورې پوره کړئ، بېشکه الله (له بد عهدۍ نه) ځان ساتونکي خوښوي]، او د الله تعالی دا قول:

﴿وَإِن نَّكَثُوٓاْ أَيۡمَٰنَهُم مِّنۢ بَعۡدِ عَهۡدِهِمۡ وَطَعَنُواْ فِي دِينِكُمۡ فَقَٰتِلُوٓاْ أَئِمَّةَ ٱلۡكُفۡرِ إِنَّهُمۡ لَآ أَيۡمَٰنَ لَهُمۡ لَعَلَّهُمۡ يَنتَهُونَ ١٢﴾[التوبة: 12]

[او که دوی خپل قسمونه له خپل عهد نه پس مات کړل او ستاسو په دین کې یې عیبونه راوېستل شروع کړل، بیا نو د کفر له امامانو (مشرانو) سره جنګ کوئ، بېشکه دوی (چې دي) د دوی لپاره هېڅ قسمونه نشته].

او هر چې ذمیان دي نو په دې ټولو کې د هغوی حقونه ډېر دي ځېنې په مونږ او ځېنې په هغوی دي، دا ځکه چې دوی د مسلمانانو په ملکونو کې اوسېږي، او د هغوی د ساتنې او حفاظت لاندې وي، د هغې جزیې په وجه چې دوی یې ورکوي.

نو د مسلمانانو په مشر باندې لازم دي چې د نفس او مال او عزت په مسلو کې په دوی باندې د اسلام حکمونه جاري کړي، او په دوی باندې په هغه څه کې حدونه جاري کړي چې دوی یې د حراموالي عقیده لري، او په دې باندې د هغوی ساتنه او د هغوی نه د ضررونو لرې کول فرض دي.

او دوی باید په جامو کې ځان د مسلمانانو څخه جلا کړي، او داسې څه ښکاره نه کړي چې په اسلام کې ناروا وي، او نه د خپل د دین نښې لکه: ناقوس (غړه) او صلیب، او د ذمیانو احکام د علماوو په کتابونو کې شته مونږ یې دلته نه اوړدوو.

والحمد لله ربّ العالمين، وصلى الله وسلم على نبيّنا محمّد وعلى آله وصحبه أجمعين.

**<u>الله تعالی ته د ارمن بنده ليکنه</u>**

**<u>محمد الصالح العثيمين</u>**

*

# فهرست


هغه حقونه چې فطرت بلنه ورکړې او شریعت منلي دي............................. 1

سریزه ........................................................................................ 3

لومړی حق :د الله تعالی حق ..................................................................... 5

دویم حق :د پېغمبر صلی الله علیه وسلم حق دی ...................................... 10

درېیم حق :د مور او پلار حقونه ........................................................ 13

څلورم حق :د اولاد حقونه.............................................................. 17

پنځم حق :د خپلوانو حقونه............................................................. 21

شپږم حق :د ښځې او خاوند حقونه .................................................. 23

اووم حق :د واکدارانو (حاکمانو) او د رعیت حقونه................................... 30

اتم حق :د ګاونډیانو حق .............................................................. 34

نهم حق :د مسلمانانو عمومي حقونه................................................... 35

لسم حق :د غیر مسلمانانو حق......................................................... 42